1040 مترمکعب
عبدالرزاق

دننګرهار ولایت ددامان ولسوالی د تور کوتل دساحی د تعمیراتی ډبرو پروتوکول د جامدو کانو ریاست او(حاجی عبدالرزاق خوشحال ریګریګین ) تر منځ

په دغه پروتوکول کی د جامدو کانونو ریاست د خرڅونکی په صفت
د( عبدالرزاق خوشحال ریګریګین )شرکت د مشتری په صفت.

۱ ــقراردادی مکلف دی چه د( 1040 )متر مکعبه تعمیراتی ډبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله مبلغ( 28080 )افغانی کیږی د معدن د ساحی په شمول پیشکی د کانو ریاست په حساب افغانستان بانک ته تحویل کړی.

۲ ــ قراردادی مکلف دی چه په حجم د( 1040 )متر مکعبه تعمیراتی ډبری د(۶۰)ورځو په موده کی استخراج او انتقال کړی.

۳ ــ د لوځونی ؛استخراج او انتقال مصارفات په قراردادی پوری اړه لری.

۴ ــډبرو د استخراج او انتقال په جریان کی که کوم د معدنکاری داصولو او مقرراتو خلاف عمل تر سره شی مسولیت ئې عام و تام د قراردادی پر غاړه دی.

۵ ــ قراردادی نشی کولای چه خپل تسلیم شوی بلاک جمعا یا جزا کوم بل شرکت یا شخص ته حواله کړی.

۶ ــ که چیری د پروتوکول په جریان کی غیر مترقبه حوادث چه دهغی پیشبینی دانسان د ذهن څخه خارج وی لکه(جنګ ــحریق ــ سیلاب ــ زلزله)او داسی نور پیښیږی قراردادی مکلف دی چه په (۴۸) ساعتو کی دکانو ریاست ته رسما اطلاع ورکړی.

۷ ــمالیه ــصکوک او نور تادیاتی تکسونه د قراردادی پرغاړه دی.

۸ ــد کانو ریاست مکلفیت لری چه وخت پروخت د قرلردلدی د استخراجی فعالیت څخه څارنه وکړی او کوم نواقص چه پیدا کیږی رهنمایی ورته وکړی.

۹ ــقراردادی مکلف دی چه د خپلو کارګرانو لپاره صحی او ایمنی شرایط برابر کړی.

۱۰ ــقراردادی مکلف دی چه د چاپیریال ساتنی شرایط مراعات کړی.

۱۱- قراردادی نشی کولای چه بیله معقول عذره چه په قانون کی ذکر شوی وی د پروتوکول د معین معیادتر پوره کیدوتر دمخه پروتوکول یو جانبه بسخ کړی.

۱۲- که چیری د پرو توکول په جریان کی د مشتری د طرفه کوم ضرر امیزهاعمال او فاحش غبن صورت ونیسی چه ددولت منافع ته ضرر ورسوی پدی صورت کی ددولت طرف کولای شی چه پروتوکول یو جانبه فسخ کړی او مشتری د خساری په جبران مکلف دی.

۱۳- پروتوکول په (۱۳) مادو کی ترتیب او د ولایت دمحترم مقام تر منظوری وروسته داعتبار ور دی.

ــ نوټ ــ دغه پروتوکول د ۹۳/۶/۲۰ څخه تر ۱۳۹۳/۸/۱۹ پوری داعتبار ــ وړ دی.

په درنښت

د کانو د رئیس امضاء

دقراردادی امضا

د ولایت دمحترم مقام ملاحظه شد

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت معادن
ریاست معادن ولایت ...